آصف بهاند
۲۰۱۶/۱۲/۱۹

# لارورکي لارويان

## لومړۍ برخه

### د سر خبرې:

زموږ د وطن او د خلکود تاريخ ډيره برخه، له بده مرغه د جګړو، غميزو او ناخوالو تاريخ دی. زموږ پر خلکو او وطن باندې چي کومې نادودې په اوسني وخت کې تېل شوې دي، دی ته بايد د سياسي ليډرانو، سياسي ګوندونو، تنظيمونو او ډلوټپلو د اشتباهاتو تاريخ و وايو.
زموږ د وران کړای شوي وطن، زموږ د ويجاړکړای شوي وطن، بې موره شوي شوي او بې پلاره شوي وطن اوسنی حالت داسې دی چي کله، کله يې ژبه له ويلو او قلم يې له ليکلو عاجز پاتې کيږي.
زه خپله د ډيرو پيښو، ورانيو، لوټ، تالان، وژلو، ژړلو، بربادیو، وهلوټکولو، د ليونتوب د خنداوو، مذهبي دښمنيو، سياسي تضادونو، ملي سوځنده تعصبونواو...هغه عيني شاهد يم چي ډيره موده مې د دغه اور په لمبو کې غوښې، هډوکي او زخمي روح وسوځيد او اوس چي ور نه لرې يم، له هغه نه زيات درد را په برخه دی.
زموږ بې وزلي خلک او بې وزلی وطن لکه نيزوری انسان چي د سيلاو خونړيو وحشي څپو، وحشي منګولوکي را ګير وي، هر بوټي ته لاس اچوي، هر ښه او بد غږ ته يې غوږ ځار او سترګې ځلور وي چي د خلاصون کوم خبر واوري، خو...
خو د وحشت او تياري استازي يې ځواب په ټوپک او راکټ ورکوي.
زموږ وطن او خلکو نور له هر ډول هيلي او اميد څخه تمه شکولې ده او له هر څه نه مرور دي، ځکه چي رڼا ورځ ور ته تروږمی شوې ده، په خپل بڼ او ګلزار کي ور ته سور اور بل کړای شوی دی. د دې اوږدې جوړه کړای شوي غميزې په غملړلي موده کي هيڅ ډول سياسي رهبر، هيڅ ډول ګوند، هيڅ ډول ايډيالوژي پر دې وطن او خلکو زړه سوی ونه کړ، د مظلوميت اوښکې يې ورته پاکې نه کړې او د مهرباني لاس يې پر سر ورته تير نه کړ.
پر دې مظلومو خلکو او وطن باندې هغه پيښي راغلي او راځي چي د بشريت تاريخ ور باندې شرميږي، هغه جزا ګاني پر دې خلکو عملي شوې چي د بشريت په تاريخ کي ساری نه لري.
خنداوې له خولو او شونډو سره مروري شوي دي، شور او ځوږ له خلکو، کلي او کور سره بيګانه شوي دي، د مستی او اتڼ حرکاتو خپل ځای د توري جګړې د پرمختګ او رواجيدو حرکاتو ته پريښی دی. پخوا به د ډزو اوريدل د خوښی مفاهيم افاده کول؛ خو اوس د ډزو غږ په ذهنونو کې د غم او مرګ زيري او هنګامه را ژوندی کوي. په وطن او خلکو باندې داسې حالت راغی چي نور نو خلک د مځکي پرسرنه ګرځيدل، بلکي مځکه د دوی پرسرباندې ګرځيده.
د همداسې حالاتو په راتللو سره و چي د لار ورکو لارويانو کاروانونه په بې آدرسه لوريو په حرکت شول، څوک چيرې ورسيدل او څوک د سپو او پردو دامونو خوراک شول او څوک هم د ګور ميلمانه.
مهاجرين هر وطن ته چي تللي دي، له بيلابيلو سر نوشتونو سره مخامخ شوي دي، چي هر يو ځان ته جلا داستان لري، خوزه د دې ستر غملړلي داستان يوه وړوکې برخه تاسو ته در بنيم.
دغه غم لړلي کرښې ما دوه ځلې ليکلي دي. لومړی وار مي له کابل نه نيولې بيا تر ماسکو پورې او بيا له ماسکو نه تر پراګ پورې هره ورځ يا هره هفته خپل ياد داشتونه ليکل، ما د دې له ډاره چي دا پاڼې د پوليس لاس ته و نه لويږي او ضايع نه شي، له پراګ څخه جرمني ته د خپل يو فرهنګي دوست په آدرس پست کړلې، خو له بده مرغه چي بيا په لاس رانغلې.
بيا چي کله ډنمارک ته ورسيدم، له يوې خوا د پاڼو د نه رسيدو په وجه سخت مايوسه وم، ځکه چي تر پراګ پورې مې ټول ياد داشتونه او پيښې په مستند ډول له نيټو او د پيښو له ځايونو سره ليکلي وو؛ له بلې خوا په ډنمارک کې نوي ژوند، نوي ټولنې او نويو ستونزو دومره سره ونغاړلم او وی نښيځلم چي د هغو پيښو بيا را يادول او د بيا ليکنې توان او ځواک مې په ځان کي نه ليده؛ خو بيا مې د ځينو فرهنګي دوستانو او د خپلې کورنۍ د غږو په ټينګار د همدې لړۍ بيا ليکلوته ملا و تړله.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ښايي ځيني پېښې او د هغو د پېښېدو ځای او نېټې زما هېرې شوې وي او يا هم تېر هېر شيان بيا را په ياد شوي وي چې په لومړي وارمې نه وې ليکلې.
د دې ليکنې له سرنه تر پايه پورې يادې شوې پېښې يا زما د خپلو سترګو ليدلی حال دی، يا د بل چا په حواله د نوم، تحصيل، وظيفې، ځای او وخت د يادونې پر اساس ليکل شوي دي چې زما له پاره د اعتبار وړ دي، او يا هم د اوريدوله قراره مې ليکلي دي، چې دومره د اعتبار وړ يې نه ګڼم.
که په دې ليکنه کې د يوې ډلې ټوپکيانو په باب ډېرې خبرې کيږي او د بلې کومې يوې په باب لږې، يا د بلې ډلې جنايايت نه په نښه کيږي، دا د دې مانا نه لري چې زه د کومې ډلې پر ضد د تبليغاتو تکل لرم، او هغه بله ډله مې د تره زامن دي چې زه به يې پرده کومه؛ خبره داسې نه ده. زه چې د کومې ډلې په باب ډېر غږيږم، د هغو د حاکميت په سيمه کې جبراً ډېر پاتې شوی يم او هر څه مې په ستر ګوليدلي دي، کور مې هلته و، وظيفه مې هلته وه او د هغو د ظلمونو په اور کې نيني شوی يمه.
د افغانستان د دغې سترې ويرينې له نا خوالونه مې د مغزو کمپيوټر داسې ډک شوی دی چې نور څه په کې ځايدای نه شي او د دغو غمونو په وجه مې زړه داسې له وينو ډک دی چې«که غرغړې کړم نو به رنګ کړم وطنونه».
دلته د دغې سترې غميزې يو وړوکی تصوير د يوه يون ليک په چوکاټ کې وړاندې کوم.

## د کابل حالات:

زموږ د يو دوست د ماما د خولې خبره ده چې مخامخ يې ما ته کړېده. دی محمد حسن نوميده، سترګې يې شنې وې، ځکه يې انډيوالانو«حسن سوز» باله. حسن سوز د کابل د يو شتمن سړي زوی و، د حبيبې په ليسه کې يې درس وايه. او هر څه يې چې زړه غوښتل، هغه يې کول.
ټولګی ته به نه ته، درسونه يې نه ويل او آزموينې ته د شا مليدو په خاطر يې د سمستر په پای کې د حاضري کتا ب پټاوه او سوځاوه به يې او په دې ډول به آزموينې ته شامليده. د تا ريخ د آزموينې په ورځ د آزموينې د وروستي ګډونکونکي په ډول آزموينې ته حاضر شو. د تاريخ له ښوونکي سره يو تن مميز او يو تن د څارونکي په ډول ناست و. د تاريخ ښوونکی پوهيده چې حسن سوز په څه نه پوهيږي، نو يې پوښتنه د ده په خوښه پريښوده او ورته وې ويل:
«حسن بچيم بګو چی ره ياد داري؟»
حسن دې نه وړي نه دې راوړي:
«صا حب جنګ خيبره بګويم!»
ښوونکي فکر وکړ، سړي لکه چې درس ويلی دی، نو سمدلاسه يې تر خولې و وتل:
«بګو بچيم!»
حسن ته چې ښوونکي، ټولګي او لوست کوم ارزښت نه درلود؛ نو يې د خپلو شوخيانو په دوام ښوونکی مخاطب کړ او وې ويل :
«او معلم صاحب جان هيچ پرسان نه کو!
يک خاک باد خيست، تومره دې مه تره دې، فيل ها ميدويد، اسپ ها ميدويد، شترها ميدويد. ايتو يک حال خيست که سګ صاحب خوده ګم ميکد. ده امی وخت بود که يک پهلوان پيدا شد، اوچت دروازې خيبره کند، که امی وار کد، اګه کلی مه ايسونه کنم ده فرق تو بخوره...»
افغانستان خو هسې هم آرام نه و،هر کله په کې اړودوړ و او دی؛ خو دغه د ماما حسن د خيبر جګړه (ګډوډي) له اوه پنځوسم ۱۳۵۷ کال را هيسې، ښه په مزو په کې پيل شوه. لوځړې خو يې لا هلته ښې پورته شوې چې نړيوالو وربانډې د مرستو په نامه، نور تيل او لرګي واچول او ګاونډيانو په مزه پکی وهل ور ته پيل کړل.
زه له خپل زلميتوبه د دغه اور د لمبو ننداري ته ناست يم او په سوځنده تاو يې سوځم. د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځی محصل وم چې د ننداري لومړنۍ پرده پرانستل شوه. نوی حکومت له نويو مامورينو سره په کار پيل وکړ. دوی په خپل زړه کې د ټولنې، وطن او خلکو د هوساينې له پاره ښه نيت درلود؛ خو د نويو مامورينو ډېری برخه بې تجربې او احساساتي خلک وو. فرمانونه ډير په بيړه را و وتل او په تطبيق کې يې هم له بيړې او زور زياتي څخه کار واخستل شو. روڼ اندي په دې پوهيدل چې يو ګوندي واک ټولنه په بله خوا بيا يي.
د دې تر څنګ کور دننه او باندني تبليغات، د سړې جګړې په زرنده کې داسې اوبه توېول و چې هر څه يې د نوي بدلون پر ضد درول. ګاونډيو هيوادونو ايران او پاکستان د افغانستان بدلون له سياسي، عقيدتي او نظامي پلوه د خپلو هيوادونو پر ضد با له. په هيواد دننه، سيمه او نړۍ کې منفی تبليغات او د نوي حکومت د بې تجربې مامورينو ناوړه چلند، د دې سبب شول چې د اختناق او وحشت فضا را منځ ته شي او خلک کوچيدنې او مها جرت ته اړشي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په سیاسي برخه کې چټک بدلون، یو ګوندي سیاست او د سیاسي واک نشه ټولي څوکی او واک د ګوندیانو د اختیار په دایره کې راوستي وې.
زه د ادبیاتو پوهنځي د دریم ټولګي محصل وم، استاد پوهاند دوکتورحبیب الله تږي موږ ته د ګرامر تدریس کاوه او په همدې وخت کې یې ځان ته کوم شخصي کور هم جوړاوه. کله داسي هم کیده چي دی به په خپله درس ته نا وخته راغی. کله به مو چي پوښتنه ور نه وکړه:
«اوبښئ د ناوخته راتګ وجه مو څه ده؟»
ده به په خندا و ویل:
«بچیانو زه په دوو ګافونو کې ګیریم، کور کې ګلکاري ده، دلته ګرامر.»
نویو بدلونونو به چي ډیر تنګ کړ، رنګ به یې تک تورشو په قهر به شو، ناڅاپه به یې تر خولې و وتل:
«له تورو غرو را ښکته شول، په تورو موټرو ننوتل...»
که څا به هسي په ټوکه کې کوم ګوندي یا دولتي مقام یاد غونډې کړ، هره شیبه به یې نیول، بندول، وهل او وژل په انتظارکې وو. د همدې دلایلو له مخې پټیدل او تښتیدل پیل شول. ډیرو خلکو د دې توان نه درلود چي له یوې سیمي بلي ته یا له یوه ولایت څخه بل ولایت ته لاړشي. هغو یې چي توان درلود، پښي یې سپکي کړې چي د مرګ له کومي ځان وژغوري. همدلته و چي د مهاجرو قافلې په روانیدوشوې. چا چي د تیښتي توان درلود لاړل. ډیر خلک تلف شول.
داسي بد بخت ملک به د نړۍ په کوم ګوټ کې پیدا شي چي د یو وګړي په لومړنیو او لوړو زدکړو دې ډیر مصارف وشي او د یوه مسلک د لوړو زده کړوسند (P H D) تر لاسه کړي، د پوهنتون په علمي کدر کې ومنل شي او د یو ملي کدر په صفت دې په ټولنه کې د خدمت جوګه شي او بیا دې د هغه سر لکه د مرغۍ سرغوڅ کړای شي؟
یوه غوره نمونه یې ډاکترغلا م غوث شجاعي دی. زه د ادبیاتو د پوهنځي د دریم کال محصل وم، ډاکټر شجاعي موږ ته د فلسفي تدریس کاوه، نا څاپه ورک شو او تر نن پورې پسي تللی دی.
د قدرت د تر لاسه کولو په خاطر د حاکم ګوند، د خلق او پرچم ډلو په منځ کې تضادونه ورځ په ورځ ډیریدل چي نتیجه یې له وطن څخه د پرچم د ډلي د لوړ پوړوچارواکو ایستل او په بهرنیوهیوادونو کې د سفیرانو په حیث مقررول و.
پخوا حاکم رژیم کور دننه لږکی اپوزیسیون درلود، خو اوس پرچم ډله په خپل ټول قوت سره د خپلو ایدیالوژیکو ملګرو پر ضد ودریده. کور د باندې مخالفینو ته لا د رژیم پرضد د تبلیغاتو زمینه برابره شوه. د سرې جګړې ډګر ښه په مزه تود و، خو حالات داسي راغلل چي د سرې جګړې ځای ورو، ورو تودې جګړې نیوه.
د حفیظ الله امین د مخالفینو له نظره د امین په وجود کې څو منفي ټکي وو چي دی یې ښه تر حملو لاندې راوستلای شو.
د پرچم د ډلي، په ځانګړې ډول د کارملیانو سخت رقیب او پښتون و، هغوی د فاشیست ټاپه پرې و وهله.
په امریکا کې یې تحصیل کړی و، ځکه یې د انتي سویتست، یعني ضد شوروي تور ورباندې ولګاوه.
د روسانو د پلان پر خلا ف او په خلقیانو کې د خپل منځي تضادونو په وجه یې نورمحمد تره کی و واژه او ځان یې د میدان یکه تاز کړ.
سره له دې چي د امین د واکمنۍ په پیل کې روسانو د خپل سفیر پوزانوف په لاس خپله مبارکي ور ولیږله، خو امین د دې پر ځای چي مننه ورنه وکړي، دوه عمله یې تر سره کړل چي کاملاً د روسانو له حیثیت سره په ټکر کې وو:
د استاد محمد ابراهیم عطایي د روایت له مخې:
یو یې د شوروي سفارت یو غړی چي ابلوف نومیده له افغانستان څخه ویست او بل یې د یوې کتنې په ترڅ کې د شوروي سفیر پوزانوف سره د ابلوف د اخراج پر سر بحث کاوه. پوزانوف انتقاد ور باندې وکړ چي دیپلوماتیک مقررات تر پښولاندې کوي. امین سخت په غصه شو او پوزانوف مخ یې په یوه څاپیړه ونازاوه چي تر اوسه پورې یې پورافغانانو نه دی ادا کړی. (وګورئ: د محمد ابراهیم عطایي، نګاهې مختصري به تاریخ افغانستان، ص ص ۴۱۶ ــ ۴۱۷)
روسانو هم داسي وکړل چي پوزانوف یې ور وغوښت او پرځا یې داسي سړی د سفیر په توګه ور ولیږه چي د امین د مرګ پلا ن یې په لا س کې و. هغه فکرت احمد جانوویچ تابیوف نومیده. امین غوښتل چي ګاونډیو هیوادونو او امریکا سره روابط ښه کړي؛ په دې مسایلو کا .جي .بي ښه پوهیدله او له دې نه په ډارکي وه چي په افغانستان کې غرب پلوی حکومت رامنځ ته نه شي.
کله چي یې پاکستان ته د ښو اړیکو وړاندیز وکړ، پاکستان هم د بهرنیو چارو وزیر آغا شاهي ته دنده وسپارله چي کابل ته ولاړ شي، خو روسان له دې سفر سره مخالف وو او خندونه یې پیښول. دا ځنډونه او خنډونه یې د امین د وژلو او د روسانو د تیري تر ورځې پورې پیښول چي هغه د ۱۳۵۸ کال د جدي شپږمه یا د دسمبر ۲۷ ورځ ټاکل شوې وه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د۱۳۵۸ کال د جدي په څلورمه نېټه زه (د دې کرښوليکوال) د خپل دانشمند او مهربانه پلار په ملتيا له کابل نه د بغلان ولايت په لوري روان وم. د افغانستان له شمال نه کابل ته په را غځېدلي لار مو بېشميره پوځي وسايط او ټانکونه وليدل. پلار مې چې يو نظامي سړی و او دوه څلوېښت کاله يې د افغانستان په اردو کې خدمت کړی و؛ نو په نظامي حرکاتو او سفر برۍ باندې ښه پوهېده، په ډېرې خوا شينۍ سره يې و ويل:

«زويه! خدای دې خير کوي، په کابل کې د شپې له خوا د طيارو بنګهارۍ او دا نظامي سوقيات بې څه نه دي، ښه به دا وي چې بېرته کور ته ځانونه ورسوو.» په بغلان کې مو تر يوې شپې تېرولو وروسته ځانونه کابل ته ورسول.

زموږ پلارنی کور د کابل د چهاردهی په دهمراد خان نومي کلي کې و او دا کلی شوروي سفارت ته ورڅېرمه پروت دی او له دارالامان سره هم دومره واټن نه لري؛ ځکه نو له بده مرغه زموږ ټوله کورنۍ په دارالامان باندې د روسانو د يرغل، د امين او ګڼ شمېر نورو افغانانو د وژل کېدو ننداره ته ناسته وه. په دغسې ډراماتيک ډول ببرک کارمل د روسانو په ټانک سپورد قدرت ګدۍ ته ځان ورساوه. کارمل له خپل ټول توان نه په استفادې سره تقريباً پنځه کاله روسان وغولول. دا به يې په ټينګار سره ويل چې اکثريت خلک په ده پسې ولاړ دي. د خلکو او روسانو د غولولو له پاره يې لويه جرګه را وغوښته، مخور، مشران او سپين ږيري يې په پلمو، په بهانو او په تحفو وغولول او په لويه جرګه کې يې کېنول.

د استاد اسد آسمايي د خولې خبره ده چې ويل يې:

«زما پلار (لالاجان) ناڅاپه ورک شو، درې ورځې مو ولټاوه، پيدا مو نه کړ. سخته خواشينۍ کې راګير وو، که ګورو چې درې ورځې وروسته سړی را پيدا شو. لالا جان سر تر پايه نوی و. دی هم لکه د نورو په څير د کارمليانو لاس ته ورغلی و، لويې جرګې ته وړل شوی و او په بدل کې يې دغه چپن، لونګۍ او کالي ورکړل شوي وو.»

ډېر وروسته روسان پوه شول چې ډريور د کارنه دی. دوی د نوي ډريور د پيدا کولو په لټه کې شول، هماغه وو چې په ډاکټر نجيب يې لا س کېښود. بيا د کارمل ډله په اپوزيسيون کې راغله او په خپل ټول توان سره يې د نجيب پر ضد کار پيل کړ.

غرب په تېره امريکا چې د شوروي د ړنګېدوپه لټه کې وو؛ د ساړه او تاوده جنګ ميدان يې نور هم پراخ او تود کړ؛ بې شمېره پيسې او بې ټوله سلاح يې د افغانستان د دولت او شوروي قواوو پر ضد استعمالوله. جګړه ورځ تر بلې توديدله او خوراک يې د بېوزلو افغانانوغوښې اوهډوکي وو.

د نجيب حکومت هم له ټولو امکاناتونه استفاده کوله چې د واکدارۍ عمر يې اوږد شي، له بلې خوا شوروي ضد هيوادونو: ايران، پاکستان او په ځانګړي ډول امريکا او سعودي عربستان؛ په تبليغاتو او لوړو مصارفو سره د نجيب پر اداري فشارونه هره ورځ ډېرول.

بل خوا په افغانستان کې د روسي قواوو درانده تلفات، لوړمصارف او د ماسکو په رهبرۍ کې بدلونونو، د ۱۹۸۸ کال د اپريل د څوارلسمي تړون چې په ژنيوکې لا سليک شوی و؛ د روسي قواوو د وتلو زمينه برابره کړه، څو د ۱۹۸۹ کال په فبرورۍ کې شوروي قواوې له افغانستان څخه و وتلې.

امريکا او پاکستان د ژنيو تړون ته هيڅ ارزښت نه ورکاوه. د شوروي قواوو له وتلو يوه مياشت وروسته، پاکستان د خپلو مليشوو په ملتيا، د افغانستان د مخالفينو په رامخکې کولو، پر جلال آباد باندې بريد وکړ.

په دې حمله کې په سلګونو عربانو او د څلورو زروپه شاو خوا کې پاکستاني مليشوو هم ګډون درلود. د نجيب پر دولت باندې د سيميزو او نړيوالو فشارونو تر څنګ، کور دننه هم مخالفت او فشارونه ډېر وو.

يو خوا د کارمل پلويانو له ستمي ګروپونو سره لاس يو کړی و او په ټول زور سره يې د نجيب پر ضد له هيڅ ډول عمل او زهرجنو تبليغاتو مخ نه اړاوه؛ بل خوا له شهنواز تني سره د نجيب د روابطو خرابوالی او د تني په مشرۍ نظامي حرکت، نور هم د نجيب د واکمنۍ د تضعيف او بد نامۍ زمينه زياته کړه. نجيب له ټولې هوښيارتيا سره سره، لګيا و اشتباهات يې کول. ده بيا هم ځان پرچمي ګاڼه او په پرچم او دوستمي مليشو باندې يې حساب کاوه، په داسې حال کې چې د ده د واک لوړ پوړو نظامي او ملکي چارواکو، چې د کارمل د خط سرسپارلي لارويان وو لکه: نبي عظيمي، محمود بريالی، فريد احمد مزدک، کاوياني او... له شورای نظار، د رباني جميعت، ايران پلوه حزب وحدت او دوستمي مليشوو سره په تړون کې د ده پر ضد، د ده د واکمنۍ د را پرزولو زمينه برابروله.

بيا هم نجيب اشتباه کوله او په دې نه پوهيده چې د پرچم پاليسي هماغه د روسانو زړه پاليسي ده او هغه په هر وطن کې د اکثريتونو ټکول او د اقليتونو وړاندې کول وو؛ ځکه د روسانو او کارمليانو هر عمل د پښتنو د واکمنۍ ضد عمل و.

د همدې دليل له مخې د عامو خلکو په منځ کې به دا خبره هر کله خوله په خوله ګرځېدله چې ويل به يې: «آس چې خدای و وهي نو ټټوترې جوړشي، پښتون چې خدای و وهي پرچمي ترې جوړشي.»

د پرچمي توب او پښتونولۍ د يو ځای کولو ښه مکافات د نجيب په دار ځړول او په سليمان لايق او يو شمېر نورو پښتنو پرچميانو پسې، له پرچميتوب سره، تر نن ورځې پورې، د کارمل د ډلې منفي تبليغاتو جاري ساتل شوي دي. او دغسې په سلګونو نور مثالونه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ګڼ شمیر ستونزو پر اساس، محمود بریالي لاپخوا د نجیب د ماتولو هوډ کړی و. د نجیب د واکمنۍ د دورې د پټو پولیسو یو چارواکي مقیم پیکار ما (د دې اثر لیکوال) ته په ماسکو کې د یوې شخصي ناستې په ترڅ کې و ویل:
کله چې نجیب د اناهیتا راتبزاد په منځګړتیا له زندان څخه د محمود بریالي د خوشې کیدو امر وکړ، په زندان کې د محمود بریالي ړیره ډیره اوږده شوې وه، له زندان څخه د راوتو په وخت کې یې په خپله اوږده ړیره لاس تیر کړ او وې ویل:
«بچې اختر اګه امتو ریش سرت نه ماندوم، بچې حسین نه باشم.»
نو هماغه و چې د نجیب پر ضد یې د یوې کودتا کارونه نور هم ګړندي کړل چې رهبري یې د محمود بریالي، کاویاني، فرید احمد مزدک، نبي عظیمي او... په لاس کې وه.
او په پای کې کودتاچي قوتونو د جهادي؟ او دوستمي ملیشوو په وجود کې، د ملګروملتونو پروګرام شنډ کړ، د کابل په هوایي ډګر کې یې له افغانستان څخه د نجیب د وتلو مخه ونیوله، نجیب د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه یوړه، هلته یې ږیره اوږده شوه او د محمودبریالي یوه مهمه هیله تر سره شوه.
د ۱۹۹۰ کال په اکتوبرکې د تیرینکوټ سقوط، د۱۹۹۱ کال د اپریل په لومړۍ نیټه د خوست سقوط، د ۱۹۹۲ کال په مارچ کې د مزارسقوط او له شمال ایتلاف سره د کارملیانو مرسته او یو ځایوالی د نجیب حکومت په ګونډوکړ؛ او په دې ډول د کابل د کنډواله کیدو او د کابلیانو له وینو نه د ویالو د بهولو وخت را ورسید.

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ